**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د الله سبحانه وتعالی محبت

**(ژباړه)**

له قتاده بن نعمان رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**إذا أحبَّ الله عبداً، حماه الدنيا كما يظِلُّ أحدُكم يحمي سقيمه الماء**» (صحيح ابن حبان/٦٧١)

***ژباړه:*** *هر کله چې الله (سبحانه وتعالی) له خپل بنده سره محبت ولري، نو هغه د دنیا له زیان څخه داسې ساتي لکه تاسو چې یو ناروغ له اوبو څښلو څخه ساتئ. (په هغه صورت کې چې اوبه ورته زیان رسوي.)*

دغه حدیث شریف موږ د رب له هغه پراخه رحمت څخه خبروي، چې له خپلو بندګانو سره یې کوي او دا بیانوي چې الله سبحانه وتعالی به له هغه کس سره چې محبت ورسره لري او هغه له ګناهونو ځان ساتي، څه ډول چلند کوي. الله سبحانه وتعالی د دغه کس ساتنه کوي او نوموړی له هغو کارونو څخه خوندي کوي، چې هغه ته زیان رسوي. کوم عملونه چې د الهي محبت د لاسته راوړلو لامل کېږي، هغه د الله سبحانه وتعالی له اوامرو څخه اطاعت دی او کوم عملونه چې یو انسان له الهي رحمت څخه لرې کوي، ګناهونه او د هغو په ترسره کولو ټینګار دی.

همدرانګه هغه عملونه چې یو مسلمان خپل رب ته نږدې کوي، د شرعي احکامو مطابق او سم چلند دی او کوم عملونه چې یو مسلمان د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه لرې کوي، هغه چارې دي چې الله تعالی یې موږ ته امر کړی، ترڅو له هغو څخه ډډه وکړو او ځانونه ترې وساتو.

اوس باید درک کړو چې هرې موخې ته د رسېدو لپاره باید سمه لاره انتخاب کړو، چې موږ هغه لوړ هدف ته رسوي. نو تر ټولو غوره عملونه هغه دي؛ چې موږ د شرعي احکام په پلي کولو، د دین د خپراوي لپاره په هڅه کولو او د دین په حاکمولو سره د رب رحمت او محبت ته ورسوي.

نو له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ د هغو کسان په ډله کې راولي، چې الله سبحانه وتعالی محبت ورسره لري او همداراز موږ له هغو ټولو شیانو څخه وساتي، چې د الله سبحانه وتعالی د قهر سبب کېږي او د هغه سبحانه وتعالی محبت راڅخه اخلي.

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**